دریمه کچه

# ایمل خان هر څه لري



**لیکوال:** انیل مینون
**انځور ګر:** یو پامانیو باتاچریا

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ایمل خان د ښوونځي بیک د قهوې پر میز وغورځاوه او چیغه یې کړه. د هغه اوږې او سر درد کاوه. دا یوه اوږده ورځ وه. د هغه د غاړې تعویذ وځلید.

د قهوې میز وویل: ” ایمل خانه! بیک دې پر خپل ځای کیږده.“

د ښوونځي بیک ایمل خان ته وویل: ” زه د دغه ځای نه یم، تاته وړاندیز کوم ما پر خپل ځای کیږدې.“

ایمل خان پوهیده او شخړه یې ونکړه. بیک یې را واخیست او خپلې کوټې ته یې کش کړ. بیک یې د میز په سر کېښود، بوټان یې له پښو لرې کړل او په کټ یې ځان واچاوه. چیغه یې کړه.

د هغه کوټې وویل: ” ایمل خانه ته نه یې ښه شوی؟“ ایمل خان وویل: ” یواځې مې پرېږده، زه اوس ښه یم.“ایمل خان خپل تعویذ شا خواته واړاوه. غوښتل یې چې تعویذ سطل ته ګذار کړي. د کور ټولو شیانو هغه ښاره خو دغو شیانو خبرې نشوی کولې.

کوټې په ټیټ غږ وویل: ” تا دوه ځله چیغې کړې، آیا په سر دې درد دی؟“ ایمل خان وویل: ” یواځې مې پرېږده. هو، په سر مې درد دی.“ کوټې په زړه سواندې سره وویل: ” زه به ستا مور خبره کړم."







ایمل خان له کوټې وغوښتل، چې د هغه مور خبره نه کړي چې هغه ناروغ دی. کیدای شي هغه خفه شي. "سمه ده؟"

پخلنځي وویل: ” بوټان دې په خپل ځای کیږده.“ د بوټ ایښودلو ځای وویل: ” دلته د بوټانو لپاره ډیر ځای شته.“

ایمل خانس پوهیده چې هغه باید را پاڅیږي، خو هیڅ وس یې نه ؤ. هغه غوښتل چې لږ خوب وکړي، ځکه هغه ډیر ستړی ؤ.

د بوټان ځای وویل: ” په تمه یم.“ ایمل خان خپلې سترګې پټې کړې او د مور د کور په اړه یې فکر کاوه. که څه هم د مور کور یې په کلي کې ؤ، خو هغه ته آرام بښونکی ځای ؤ.



هغه ته د خرما د ونو انګازي، د ګلابو بوټي او شین آسمان ور په زړه شول.

د سهار وږمو او د پراټو بوی چې په سکرو پخیدې، هغه په سوچونو کې ډوب کړ.

د ژمي میاشتې ډیرې خوږې وې. سړه هوا لکه د ښارونو هوا بدلونکو پکو به ځیر وه.



بارانی موسم تر ټولو ښایسته ؤ. د باران د څاڅکو
آوازونه په اوبو کې ډېر خوندور وو.
اوه، د سیند په غاړه کیناستلو بل خوند درلود.
ډیره آرامه او ډیره خوږه شپه خپریده. هلته هر څه
ښکلي وو.



د بوټ ایښودلو ځای و ویل: ”
په تمه یم."

ایمل خان اسویلِي وکړ او
کیناست.
هغه په دې نه خفه کیده چې
ولې مرسته ورسره کیږي، خو
دا مرستې بیخي ډیرې وې.

دغه حالت هغه ته د بند خونې
په څیر ؤ، او هیڅوک حتی د
هغه ترور هم نه پوهیده.

ایمل خان خپل بوټان په بوټ
ځای کې کیښودل او پخلنځي
ته لاړ.
هغه باید ځان ته پکورې
ګرمې کړې وی، خو خوړو
جوړونکي ماشین لږ چای
جوړ کړ. د دغه چای خوند سم
نه ؤ.
خوړو جوړونکي ماشین
وویل: ” ایمل خانه! چای دې
په زړه ده؟“
ایمل خان وویل: ” ډیر بد
خونده ده. مننه.“







د ایمل خان له تعویذه غږ پورته شه. دا د ایمل خان مور وه. هغې غوښتل چې پوه شي، آیا ایمل خان ښه شوی که نه. هغې وویل: " ښځنګه دی سر درد دې، خانه!" د هغې مینناک غږ ایمل خان ډیر نا هیلی کړ.
ایمل خان وویل: " سر درد مې ښه دی. کارونه ښځنګه روان دي؟"
هغې وویل: " ښه دي. خو د تیر په ښځیر نه دي. ایمل خانه، ستا ورځ ښځنګه وه؟"

د هغه مور به څو، څو ساعته کار کاوه. د هغه په اړه به په فکر کې وه او هغه ته يې ډيره پاملرنه کوله. هغه ايمل خان لپاره هم مور وه هم پلار او هم د کورنۍ ټول غړي.

ايمل خان زړه نشوی کولای چې هر څه ښکاره ووايي. ايمل خان وويل: ” ورځ مې ښه وه.“ هغې وويل: ” ته مطمئن يې، ايمل خانه؟ ستا د ښوونځي بيک راته وويل چې ته يې د ښوونځي سر ښوونکي ته بوولی وې. څه قيصه وه؟“
ايمل خان وويل:
” هيڅ خبره نه وه“
هغې و پوښتل:
” ايمل خانه؟“
ايمل خان ځواب ورکړ:
” هيڅ هم نه ؤ! کولای شې د ښوونځي له بيکه پوښتنه وکړې. هغه له هر څه خبر دی.“
هغې غوښتنه وکړه:
” ايمل خانه، څه خبره ده؟ ګوره، ولې آينې ته نه ځې؟ غواړم تا ووينم. هره ستونزه چې وي مونږ يې حلوی شو.“



ایمل خان وویل: ” نه، مونږ دا ستونزه نشو حلوی!“ د هغه له ستروګو اوښکې داسې روانې وې لکه د سیند اوبه.
هغه کوښښ کاوه چې د اوښکو مخنوی وکړی خو لا هم اوښکې بهیدې. هغه پوهیده چې له کوره څخه به ټولې خبرې
د هغه مور ته رسیږي چې ایمل خان ژړل. د هغه ټول کارونه ولیدل شول. هغه پوهیده چې په مور ګران دی او دا
ټول کارونه د هغه د خوښۍ لپاره کیږي، خو هغه دا شیان نه غوښتل.
خپلې ګوتې یې د تعویذ له زنځیره را تاو کړې او هغه یې وشکاوه او لرې یې وغورځاوه.
د هغه په اړه یې هیڅ فکر و نکړ او له خونې بهر شو.
ایمل خان نه پوهیده چې څومره لرې لار لاړه، چیرته لاړه او څنګه نا درکه شه.







بې له تعویذه هغه نه پوهیده چې چیرته روان دی. خو د ښار وړو ځیرکو وسایلو فکر کاوه چې هغه نادرکه شوی او چارواکو ته یې خبر ورساوه.

له هغې وروسته چې د ایمل خان مور له پولیسه مننه وکړه، ایمل خان له هغې څخه تعویذ واخیست.

هغه ډیر شرمیدلی ؤ خو خوښ په دې ؤ چې بیرته را واپس شو.

د ایمل خان مور وویل: ” ما ځینې کارونه برابر کړل. اوس به کور تا ته یو څه رازونه در کړي، خو دا ټول ستا د ښه والي لپاره دي.“ ایمل خان و بنګیده: ” زه پوهیږم.“

هغې و پوښتل: ” ښه دا ووایه چې ښار څنګه ؤ؟“ ایمل خانوریږدیده. کوڅې له خلکو ډکې وې چې ټولو یو له بل څخه توپیر درلود. هغوی ټول بیګانه وو. خو له تعویذ سره هغه داسې انګیرله چې دا خلک ورته بیګانه نه دي.

...



بې له تعویذه، هر څه ستونزمن وو؛ لکه له سړک څخه اوښتل.

هیڅوک نه ؤ چې هغه ته ووایي: " ایمل خانه، له سړک څخه واوړه." او هیچا ایمل خان نه پیژانده.
کله چې هغه د سینما لپاره د فلم انځور کاته، د فلم اتل ویکرم خان غږ وکړ: " جنګي فلمونه دې خوښیږي؟"
خو که چیرته ایمل خان سره تعویذ وی نو ویکرم خان کیدای شوی داسې ویلي وی: " سلام ایمل خانه، خوښ یم چې بیا دې وینم، راځه چې خبرې اترې وکړو."



بې له تعويذه هر څه ورته د تيږي په شان بې ارزښته وو.

موري په مسکا سره وويل: ” ما هم همداسې فکر کاوه. اوس نو ایمل خانه، ته پوه شوې چې تا باید کور بې له تعویذه نه وی پرېښې؟ مونږ ډیر خفه وو.“

ایمل خان وویل: ” مورې، په دې کار سره ښښنه غواړم.“ مور یې وویل: ” خانه، دا بده خبره نده. خو ته اوس غټ هلک یې، ته باید ډیر هوښیار وی. زمونږ ژوند دلته ډیر ښه ده، همداسې نده؟“

ایمل خان د کلي په اړه سوچ کاوه. په کلي کې تعویذ بې مانا شی ؤ. کیدای شي هیڅ ارزښت یې نه درلود. هغه خپل سر وخوځاوه. د هغه مور ډیره مهربانه وه. هغې په خپل لاس خواړه برابر کړل او خوږو جوړونکي ماشین ډیره لږ مرسته ورسره وکړه.





وروسته له شیدو څښلو، مور یې یو قیصه ورته وکړه. له هغې وروسته یې په کټ کې څملاوه او د تعویذ په ښودلو سره یې ترې خدای پاني وکړه.

هغه خپلې مور ته و نه ویل چې سترې دی.
وې ویل:
” خدای پامان، مورې“
هغې وویل:
” خدای پامان، خانه“



له کوره غږ را ووت:
” ښه شپه، ایمل خانه! ښه شپه، موريې! پوره خوب وکړه، زه غماشې نه پرېږدم چې تا و چيچي.“

**د شیانو تر منځه اړیکې (انټرنیټ):**

آیا ستاسو زنګي ساعت په دې پوهیږي چې آزموینه لرئ؟ آیا زنګ وهونکی ساعت به تاسي خبرکړئ تر څو له خوبه وختي را پاڅیږئ او خپل درس تکرار کړئ؟

که چیرې وغواړی کوم ځای ته لاړ شئ او لار در څخه ورکه شي، آیا ستاسو بوټان کولی شي لاره درته معلومه کړي؟ ښکاره خبره ده چې نشي کولی.

کوم شیان چې زمونږ شاوخواه لیدل کیږي، یوازې بې ځانه شیان دي. دغه شیان نه ستاسو په اړه نه هم د کور شیانو په اړه پوهیږي. ساعت یوازې یو ساعت دی. رادیو یوازې رادیو ده. ساعت د رادیو په اړه نه پوهیږي او رادیو د ساعت په اړه. دغه شیان نه تاسو سره، نه نورو خلکو سره او نه له نورو شیانو سره کومه اړیکه لري.

خو دا هر څه د بدولون په درشل کې دي. ډیر ژر به د انسان په لاس جوړ شوي شیان یو له بل سره و نښلي. دوی به پوه شي چې څه پیښیږي. دوی به ډیر ځیرک وي. دوی به وکړی شي چې معلومات یو له بل سره شریک کړي او ستا د اړتیا وړ توکي را ونیسي.

کله چې دغه شیان یو له بل سره ونښلي، نو ویلی شو چې د دغو شیانو تر منځ اړیکې (انټرنیټ) شتون لري. که چیرته تاسو په داسې وخت کې و اوسئ، نو کوم ځای کې ژوند غوره ګڼئ، ښار یا په کلي کې؟ او ولې؟





که چیري هر څه خبرې کولې؟
د خپل کور یا ټولګي ټول شیان وشمارئ لکه ( دروازه، څوکۍ، ساعت، رادیو، کتابونه، او داسې نور) آیا تاسو به حیران شئ؟
فکر وکړئ که چیرته دغو شیانو خبرې کولی، اوریدلی او لیدلی یې شوی، نو ستاسو ژوند به څه ډول ؤ؟

# لاربښودونکې پوښتنې

1. څه فکرکوئ چې د ایمل خان له دغې خبرې څخه څه مطلب ده " هغوی ټول بیګانه وو؟"
2. فکر کوئ چې ایمل خان وتښتیده؟
3. په کومه توګه چې ایمل خان ژوند کوي، د هغې ګټې او تاوانونه و وایاست؟
4. تاسو هم غواړئ په یو داسې ځیرک ښار کې ژوند وکړئ؟ ولې او ولې نه؟
5. که چیرته تاسو په خپل ژوند کې کوم ځیرک څیز جوړ کړی وی ( لکه په قیصه کې چې یاد شوي)، نو تاسو به څه انتخاب کړي وو؟ ولې؟